# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد        بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم        از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com        afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |



د افغانستان د زيارکښانو تولنيز انجمن (د شيرزاد ليکنه)


۱۴ مارچ ۲۰۱۵

## کابل، د ستمگرانو واکمنتيا او د زيارکښانو قربانگاه

کابل چې دا وخت څه باندې ۵ ميليونه نفوس لري د زيارکښانو لپاره د قربانګاه حيثيت او بڼه لري. په دې پنځه ميليونو انسانانو کې ۹۵ فيصده انسانان هغه زيارکښه انسانان دي چې د ۵ فيصده لوټمارو او چپاولګرو ستمګرو لخوا تر بيلابيلو ستمونو لاندې ژوند کوي. دا ۵ فيصده لوټمار د بهرنيانو نوکران او چپاولګره سرمايه داران او سوداګران دي چې هم په خپله او هم يې کورنۍ او ان باډيګارډان يې پر بېوزلو کورنيو ستمونه کوي.

په دې ښار کې ستمګران له پوره واکه برخمن دي او هر ډول جنايت او ستم چې وکړي چرت يې هم خراب نه دی، خو دلته ستمځپلي هر ورځ لا ځپل کيږي، رنځيږي، کړيږي او د دربدرۍ ژوند تيروي. دولت چې د سرمايه دارانو او تاجرانو او خانانو او اربابانو حامي او ملاتړی دی، ظاهرا د هر ستمګر له جنايت وروسته د قانون خبرې کوي. خو زيارکښان په ښه توګه پوهيږي چې د اوسني واکمن دولت قوانين يوازې او يوازې د شتمنو په ګټه دي او زيارکښان او بيوزلي ته نه يوازې کومه ګټه نه رسيږي، بلکې د دې قوانين په چوکاټ کې لا ځپل کيږي.

په روانه اونۍ کې د کابل د دهمزنګ په سيمه کې يو زيارکښه موټرچلونکی په بيرحمۍ سره ووژل شو. په رسنيو کې راغلل چې د کاپيسا ولايت د وکيل باډيګاردانو د دې بيوزله ډريور موټر په خپل رينجر ډوله موټر ووهو او موټروان د ټيونو له وجه ژوند له لاسه ورکړ او بيوزله کورنۍ يې په وير کښيناستله. له دې ستم څخه يوه اونۍ تيريږي، خو لا تر اوسه د پانګوالو او تاجرانو او خانانو د پارلمان وکيل په خوښۍ ګرځي او دولت ورته څه ويلی نشي. له دې مخکې د کابل په کمپنۍ سيمه کې د يوه جهادي قوماندان وراره يو زيارکښه ډاکټر ووژو، هغه هم تر اوسه اوچته غاړه ګرځي او دولت ورته هتکړۍ په لاس نشي اچولی.

دا په کابل ښار کې د سلګونو ستمونو دوه بيلګې دي. دا ستمونه ښکاره کوي چې زمونږ پايتخت د ستمګرانو د واکمنتيا پلازمينه او د زيارکښانو او بيوزلو انسانانو قربانګاه ده. دا ستمونه ښکاره کوي چې اوسني قوانين د پانګوالو او تاجرانو او فيوډالانو په ګټه دي او همدا هم دی چې د هر جنايت وروسته دوی په آزاده ګرځي او زيارکښان لا ډاروي.خو په کراتو ليدل شوي دي چې يو بيوزله انسان د يو کوچنی کار لپاره په مياشتو مياشتو او کلونو کلونو د زندان شاته اچول شوی دی.

پر زيارکښانو به دا ستم تر هغه ادامه ومومي چې زيارکښان د خپل خلاصون لاره پيدا نکړي. هر زيارکښه انسان يوازې او يوازې هغه وخت له ستم، بردګۍ او جنايت څخه خلاصون مومي چې د نورو زيارکښو انسانانو سره په

پیوستون او یووالي د خپل خلاصون لپاره حرکت پیل کړي، له دې پرته د ستم او جنایت څخه د خلاصون لپاره زیارکښان بله لاره نلري.